# عیبونه پټ کړئ جنت اوګټئ

پښتو




شیخ طریقت، امیر اہلسنت، بانیِ دعوتِ اسلامي حضرت علامه مولانا ابو بلال

**مُحَمّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي**

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د کتاب لوستلو دعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندي دُعا لولئ

اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ څه چې لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

**اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام**

**ترجمه**: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او د حِکمت دروازے برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګئ والا!

(مستطرف ج 1 ص40 دار الفكر بيروت)

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

طلب غم
مدینہ بقیع
ومغفرت

د رسالے نوم: عيبونه پټ کړئ، جنت حاصل کړئ

اول ځل: ..........................................

تعداد: ...................

## مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالے چاپ کولو اجازت نشته

### کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼې کمې وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلي وي نو مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.

# عيبونه پټ کړئ، جنت حاصل کړئ

شيخِ طريقت اَميرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه دا رِساله "عَيب چهپاؤ جنّت پاؤ" په اردو ژبه کښې ليکلې ده.

مجلِسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالے په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړے دے. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي يا کمے، زياتے اومومئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دے چه مجلِسِ تراجِم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

پيشکش:

مجلِسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي


برائے رابطہ:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگراں

پرانی سبزی منڈی، باب المَدینہ کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213

**Email:** 🖃 translation@dawateislami.net

# فهرست

## عیبونه پټ کړئ، جنت حاصل کړئ 2


عیبونه پټ کړئ جنت اُوګټئ..................................................1
د درود شریف فضیلت ..................................................1
څوک چې خپل عیبونه پیژني ..................................................1
پټې خبرې مه لټوَئ!..................................................1
الله پاک به د هغه پرده پوشي کوي ..................................................2
عیبونه پټ کړئ جنت اُوګټئ ..................................................2
په جهنم کښې به چغې وهي!..................................................3
غیبت په ایمان کښې فساد پیدا کوي..................................................4
د یو نوي مُسلمان دردناکه قصه ..................................................4
غیبت نه د توبه کولو طریقه.................................................. 11
د بنده نه دِ هم معافي اوغواړي.................................................. 11
د چا ئې چې غیبت کړے وو نو د توبه کولو.................................................. 12
نه پس که هغه ته پته اولګي؟.................................................. 12
د چا ئې چې غیبت اوکړو هغه ته پته اولګیده.... بیا مړ شو .................. 13
هائے د نفس شامته!.................................................. 13
په دنیا کښې پرې ځان معاف کولو کښې خیر و عافیت دے .................. 14
د بُهتان تعریف.................................................. 14
د بُهتان نه د توبه کولو طریقه .................................................. 15
د بُهتان عذاب.................................................. 15
د ګناه د الزام عذاب .................................................. 16

شکي مزاجو ته خبردارے ........................................... 16
په ښځه باندي د تهمت لګولو په سبب هلاکت ................................. 16
يو بل د غيبت نه دبچ کولو طريقه.................................................. 17
چاته تور وئيل هم غيبت دے ......................................................... 17
په توبه کولو کښې شرم محسوسول نه دي پکار.................................. 18
د چا خبره غيبت نه وه خو تا ورته غيبت اووئيلو نو؟ .......................... 19
جګړې نه د بچ کيدلو فضيلت ........................................................ 19
د استغفرالله وئيلو فضيلت.............................................................. 19
د توبے درې ارکان دي ................................................................. 20
ټول د غيبت نه د بچ کيدلو ترکيب اوکړئ........................................ 20
دعائے عطار.............................................................................. 21

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

دا مضمون د"غیبت کی تباہ کاریاں" صفحه 281 تا 300 نه اخستے شوے دے

# عیبونه پټ کړئ جنت اُوګټئ

**دعائے عطار!** یا ربَّ الـمُصطفي! چې څوک هم دا رساله "عیبونه پټ کړئ جنت اُوګټئ" اولولي یا ئې واوري، هغه د خلقو عیبونه پټوونکے جوړ کړې، په دنیا او آخرت کښې د هغه پرده اوساتې او هغه بےحسابه اوبخښې. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د درود شریف فضیلت

حضرت ابودرداء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روایت دے چې نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو:" څوک چې سحر ماښام په ما باندې لس لس ځله درود شریف لولي په ورځ د قیامت به زما شفاعت هغه ته ضرور رسیږي." (الترغیب والترھیب، 261/1، حدیث:29)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## څوک چې خپل عیبونه پیژني

حضرت بي بي رابِعه عَدَوِیَّه رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہَا به فرمائیل: بنده چې کله د **اللّٰه** پاک د مینې خوند اوڅکي **اللّٰه** پاک هغه د هغه په خپلو عیبونو باندې خبردار کړي بس بیا ځکه هغه د نورو خلقو په عیبونو کښې نه مشغولیږي. (بلکه د خپلو عیبونو طرته متوجه اوسي) (تنبیه المغترین، ص197)

## پټې خبرې مه لټوئ!

د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: اے هغه خلقو! کومو د ژبې په ذریعه ایمان راوړے او ایمان د هغوئي زړونو ته نه دے داخل شوے، د مسلمانانو

غيبت مه کوئ او د هغوئي د پټو خبرو لټون مه کوئ، ځکه چې څوک د خپل مسلمان ورور د پټو خبرو لټون کوي، **اللہ** پاک به د هغه عيبونه ښکاره کړي او **اللہ** (پاک) چې د چا عيبونه ښکاره کړي، هغه به رسوا کړي، اګر که هغه په خپل کور کښې دننه وي. (ابوداود، 354/4، حديث:4880)

اے عاشقان رسول! د يو مسلمان د عيبونو په لټون کښې پريوتل نه دي پکار، **اللہ** پاک په سيپاره 26 سُوْرَةُ الْحُجُرٰت آيت نمبر 12 کښې ارشاد فرمائي:وَلَا تَجَسَّسُوا، [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: ''او عيبونه مه لټوئ.''

صدرالافاضل حضرت علامه مولانا سيد محمد نعيم الدين مراد آبادي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: يعني د مسلمانانو عيبونه مه بيانوئ او د هغوئي د پټو حالاتو معلومولو په کوشش کښې مه اوسئ کوم چې **اللہ** پاک په خپله ستّارئ سره پټ کړي دي.

(خزائن العرفان، ص863)

## اللہ پاک به د هغه پرده پوشي کوي

حضرت عبدالله بن عمر رَضِیَ اللہُ عَنْہُما نه روايت دے چې زمونږه خوږ آقائے کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: يو مسلمان د بل مسلمان ورور دے نه په هغه باندې ظلم کوي او نه هغه بے يار و مددګار پريږدي او څوک چې د خپل ورور حاجت پوره کړي **اللہ** پاک د هغه حاجت پوره کوي او څوک چې د يو مسلمان نه تکليف لرې کړي **اللہ** پاک به د قيامت د تکليفونو نه د هغه نه تکليف لرې کړي او څوک چې د يو مسلمان عيب پټ کړي نو **اللہ** پاک به په ورځ د قيامت د هغه عيب پټ کړي. (مسلم، ص1394، حديث:6580)

## عیبونه پټ کړئ جنت اُوګټئ

حضرت ابو سعيد خُدري رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے چې د مدينے جانان

ﷺ اوفرمائيل: څوک چې د خپل ورور عيب اووِيني او د هغه عيب پټ کړي نو هغه به جنت ته داخل کړے شي. (مُسند عبد بن حميد، ص279حديث:885)

## په جهنم کښې به چغې وهي!

اے عاشقان رسول! سُبْحٰنَ الله د چا د پردے ساتلو ډېر زيات فضيلت او اهميت دے! کوم څيز چې د آخرت د پاره څومره اهم وي شيطان هغه همره په هغې پسې لګي. لهٰذا هغه مسلمان د بل مسلمان د پردے ساتلو نه د منع کولو د پاره ښه پوره زور لګوي او خبره دې ته اورسي چې نن د مسلمانانو اکثريت د نورو مسلمانانو په عيبونو ښکاره کولو او غيبتونو کښې مشغول دي او اکثر خو څوک د چا عيبونو پټولو ته تيار نه دي بغير د څه ويرې بلکه بعضې وخت خو ښه په فخر سره د نورو خلقو په وړاندې ئې بيانوي، بيا که څوک د چا عيب پټ هم کړي نو هغه هم بس هسې عارضي طور وي، څنګه چې ئې ورسره څه خفګان راشي نو څومره عيبونه ئې چې پټ کړي وي هغه ټول په يو ځل ښکاره کړي! آه! د آخرت ويره ختمه شوې ده! يقيناً د جهنم سزا به څوک هُم برداشت نه کړے شي. حضرت عيسیٰ روحُ الله عَلَيۡهِ السَّلَام فرمائي: څومره صحت مند بدنونه، ښکلي مخونه، او خوږې خبرې کوونکے ژبې به صبا د جهنم په طبقو کښې چغې وهي! (مكاشفة القلوب، ص152)

اوروں کے عیب چھوڑ نظر خوبیوں پہ رکھ
عیبوں کی اپنے بھائی مگر خوب رکھ پَرَکھ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

تُوبُوا اِلَى الله! اَسْتَغْفِرُ الله

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## غیبت په ایمان کښې فساد پیدا کوي

حضرت حسن بصري رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ ارشاد فرمائي: ”غیبت د مُؤمِن بنده په ایمان کښې د دې نه هم زر فساد پیدا کوي څومره زر چې د آکِله بیماري د هغه جسم خرابوي.“ (آکله، تشو سره خواه کښې دانے ته وائي چې هغې سره څرمن سخا شي او غوښه په رژیدلو شي) نور ئې اُوفرمائیل: چې اے ابن آدم! ته هغه وخته پورې د ایمان حقیقت نه شې موندلے تر څو پورې چې د خلقو عیبونه لټول ترک نه کړې. کوم عیبونه چې په تا کښې موجود دي ته د هغې اصلاح شروع کړه. او هغه عیبونه د ځان نه لرې کړه. پس کله چې ته داسې کوې نو دا څیز به تا په خپل ذات کښې مشغول کړي. او د **الله** پاک په نزد داسې بنده د ټولو نه زیات خوښ دے.

(ذم الغیبۃلابن ابی الدنیا، ص93،97 رقم:54،60)

## د یو نوي مُسلمان دردناکه قصه

خوږو اسلامي ورونړو! اَلۡحَمۡدُلِلّٰہ د عاشقانِ رسول دیني تحریک، دعوت اسلامي د اهلِ حق د سنّتو ډک تحریک دے، د دې عقائد بالکل د قرآن و سنت مطابق دي، دې سره هر وخت وابسته اوسئ، ان شاءالله الکریم د عاشقان رسول د صُحبت په برکت به تاسو ته د ایمان د حفاظت جذبه، د نیکو طرف ته رغبت او د غیبتونو وغیره ګناهونو نه د نفرت سعادت حاصل شي هر حالت کښې د ایمان حفاظت ضروري دے د چا چې خاتمه په ایمان اونښي د هغه هیڅ عبادت پکار نه راځي، فرمان مصطفے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے: اِنَّمَا الۡاَعۡمَالُ بِالۡخَوَاتِیۡم یعني د اعمالو دار و مدار په خاتمه دے. (بخاری، 274/4، حدیث:6607) که هرڅنګه آفت راشي خو په ایمان کښې هیڅ کله فرق راتلل نه دي پکار. په دې باره کښې ”د یو نوي مسلمان دردناکه قصه“ د اوریدو سره تَعَلُّق لري: چنانچه د دِهلي (هند) د علاقے سلیم پور د اوسیدونکي 22 کلن ځلمي د ایمان

قبلولو ایمان افروزه واقعه څه داسې ده چې: هغه د یو غیر مسلمه خاندان سره تعلق لرلو، د هغه د پلار دا خواهش وو چې هغه ډاکټر جوړ شي، په دې سلسله کښې ئې هغه په 1994ء کښې د خپل دوست هسپتال ته اولیږلو هغه غیر مسلمه ډاکټر به د مسلمانانو نه دومره نفرت کولو چې کوم ځیز ته به د مسلمان لاس لګیدلے وو هغه به ئې نه خوړلو او نه به ئې څښلو. د هغه [ځلمي] هم دغه عادت جوړ شو چې ټوله ورځ به ئې لوَږه قبلوله خو د مسلمان د لاس اوبه څښل به ئې نه قبلول. یو څو کاله داسې تیر شول. یوه ورځ د شین پټکې او سپینو جامو والا یو اسلامي ورور د سترګو د آپریشن د پاره دغه هسپتال ته راغے د هغه اسلامي ورور د ژبې او نظر د حفاظت انداز او ښو اخلاقو ته ئې چې اوکتل نو په قلاره قلاره د هغه خواه ته نزدے شو. هغه اسلامي ورور به هر وخت په هغه باندې انفرادي کوشش کولو. یو څو ورځې پس هغه اسلامي ورور د هسپتال نه واپس لاړو خو د هغه [غیر مُسلِمه ځلمي] سره به ئې رابطه کوله او د هغه خواه ته به تلو راتلو. هغه اسلامي ورور سره یو ضَخِیم یعني غټ کتاب وو چې د هغې نوم "فیضانِ سُنَّت" وو، کله به چې هغه چوک وغیره کښې د هغې نه درس ورکولو نو د انفرادي کوشش په ذریعه به ئې هغه ته هم د شرکت کولو دعوت پیش کولو، هغه به هُم اوریدلو د پاره کښیناستلو، د "فیضانِ سُنَّت" د درس په برکت په یو څو ورځو کښې د هغه په زړهٔ کښې اسلام سره د نفرت په ځائے د مَحبَّت احساس شروع شو. بیا به هغه د مسلمانانو سره خوراک څښاک هم کولو او د جماتونو او آذان احترام به ئې هُم کولو. 2004ء کښې هغه یوه ورځ د عاشقان رسول دِیني تحریک دعوت اسلامي د مَکْتَبَةُالْمَدِینه رساله "د غسل طریقه" اولوستله خو صحیح پرې پوهه نه شو نو د هغه اسلامي ورور نه ئې تپوس اوکړو، هغه د رسالے په مدد سره تفصیلًا د طهارت په ټولو مسائلو باندی پوهه کړو او ورته ئې اُووئیل چې حقیقي پاکوالے بغیر د مسلمانیدو نه نهٔ شي حاصلیدے. دغه وخت د هغه د نیک

بختئ معراج وو، د هغه الفاظو د دهٔ د ژوند رُخ بدل کړو، لږ ساعت سوچ ئي اوکړو او بیا ئي کلمه طَیِّبه اووئیله او د اسلام په دائره کښې داخل شو. د کفر د تیارو نه را اُووتلو او زړهٔ ئي د اسلام په نُور روښانه شو.

هغه د عاشقان رسول دِيني تحریک دعوت اسلامي د سنتو ډکه اجتماع کښې شرکت کول شروع کړل او په سلسله عالیه قادِریه رَضَوِیَّه کښې داخل شو او د حضور غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مرید شو او د جُمعې سره ئي لمُونځُونه شروع کړل، کله کله به شیطان هغه ته د مذهب اسلام په باره کښې وسوسے اچولې. یوه ورځ ئي د مَكْتَبَةُالْمَدِينه رساله ''بُڈھاپُجاری'' اولوستله نو اَلْحَمْدُلِلّٰه د هغه د وسوسو جرړې کټ شوې. اَلْحَمْدُلِلّٰه په 18 جولائی 2005 کښې ورته عاشقان رسول سره مدني قافله کښې د سنتو ډک سفر کولو سعادت هم نصیب شو. د دې نه مخکښې به هغه په وړه وړه خبره د کور د کسانو نه خفه کیدلو، طعام به ئي چې د مزاج خلاف وو نو ډیر شور به ئي کولو، مدني قافله کښې د سفر کولو په برکت ئي دا عادت هم ختم شو. د کور کسان د هغه په داسې بدلیدلو باندې حیران وو او د مذهبِ اسلام نه متاثره شو، هغه د ګیرې پریښودلو سره سره شین پټکے هُم په سر کول شروع کړل خو چې کور ته به تللو نو لرې کولو به ئې. یو څو ورځې پس د هغه د کور خلقو له چا ذهن خراب کړو چې د هغې په وجه پرې په کور کښې سختې شروع شوه، هغه به ئي په خبره خبره رټلو بلکه د وهلو اسره به ئي هم پرې نه کولو. هغه تنګ شو او کور ئي پریښودو خو یو څو ورځې پس بیا خپل ورور په بهانه باندې راوغوښتلو او په زور ئي نائي له بوتلو. کله چې هغه نائي ته اووئیل چې زه مسلمان شوے یم نو هغه اویریدو او د ګیرې کټ کولو نه ئي انکار اوکړو. د هغه د کور کسان هم د ګیرې کټ کولو نه یَریدل خو افسوس چې د علمِ دین نه بےخبره یو مسلمان د هغه د کور خلقو ته اووئیل چې ګیره پریښودل ضروري نه دي، مونږ ته اوګورئ! په لکونو مسلمانان ګیره نه پریږدي!'' دا ئي چې واوریدل نو د کفر په تیارو کښې اختته د هغه د کور کسان

زَرَوَر شول او هغوئي په اُودو باندې د بليډ په ذريعه د هغه ګِيره کټ کول شروع کړل. د هغه سترګې چې اُوغړيدلې نو د ګِيرې بچ کولو په کوشش کښې ئې مخ په وينو سُور شو، هغه په ژړا ژړا هغوئي د دې کار نه منع کول شروع کړل خو هغوئي د ده يوه خبره هُم اونه منله او ګِيره ئې ترينه کټ کړه. د مخ نه بهيدونکې وينه ئې په اوښکو کښې شامله شوه، هغوئي په دې خبره هم بس نَکړل بلکه په يوه کمره کښې ئې قيد کړو، د بدن د کپړو نه علاوه هغه سره نور هيڅ نه وو، د هغه به نګراني کيدله خو هغه به په څه نه څه طريقه لمُونځونه ادا کول، او د اودس برقراره ساتلو د پاره به ئې د خوب قرباني ورکوله، د پاره د دې چې څنګه راته موقع ملاو شي چې لـمونځ ادا کړم، د حال د تپوس کولو ئې هيڅ څوک نه وو او نه ئې څوک همدرد وو چې د همدردئ يو دوه خبرې ورسره اوکړي او د زړهٔ درمان ئې جوړ شي هم دغه شان تقريباً دوه مياشتې تيرې شوې تر دې چې د رمضان المُبارک مقدسه مياشت راغله. آه! هغه ته به چا پيښمنے ورکړے وے! د رمضان المُبارک روژه پريښودل هغه ته قبول نه وو چنانچه هغه بغير د پيښمني نه روژه اُونيوله، د مازديګره پورې چې هغه روټئ اونخوړله نو د کور خلق ئې پريشانه شو. هغوئي په جمع راغلل او د روټئ خوړلو د پاره ئې پرې زور شروع کړو هغه ورته اووئيل: ”چې کيږدئ زه به ئې اوخورم.“ د هغوئي د تللو نه پس د نور زور راوړلو نه بچ کيدلو د پاره ئې سالن اخواه ديخواه کړو او روټئ ئې په جيب کښې واچولې خو د کور خلقو ته په څه طريقه شک شو او هغوئي پرې د ورځې په زور روټئ اوخوړله، هغه په زړهٔ کښې ډير خفه شو خو مجبوره وو او دغسې پينځه روژې ئې اُونه نيولے شوے. آخر د څه سبب په وجه ورسره د کور د خلقو له طرفه څه نرمي شروع شوه او هغه بيا هسپتال ته تلل شروع کړل. هغه به بغير د پيښمني نه د روژے نيت کولو او په ظاهره به ئې د غرمې روټئ ځان سره وړله او ماښام به ئې په هغې روژه ماتے کولو. دې دوران کښې هغه د اسلام قبلولو متعلق قانوني کاغذات هُم مکمل جوړ کړل خو د کور خلق ئې ناخبره پريښودل. هغه

به د کور والؤ نه په پټه چې کوم جمات ته لمونځ له تللو د هغې جمات انتظاميه د ويرې نه منع کړو چې تاسو دلته مه راځئ، چرته فساد جوړ نه شي د هغه زړۀ خو ډير خفه شو چې زه د مسلمانئ باوجود د حالاتو د ظلم د وجهې نه جمات ته د داخليدلو نه منع کړے شوم خو بےوسي وه، هغه عاجزه څه کولے شُوو! د دعوت اسلامي مرکز د هغه ځائے نه ډير لرې وو او د حالاتو پيشِ نظر هغه [ځلمي] پخپله هغوئي د رابطے کولو نه منع کړي وو. پريشانو د هغه اعصابي نظام مُتأثِّره کړے وو، هغۀ ته يو داسې همدرد او غمګسار هم نه ملاويدو چې د هغه په اُوګه خپل سر کيږدي او د غم يو دوه اوښکې اوبَهيوِي او د زړۀ بوج سپک کړي، آه! هغه بالکل ځان له وو، داسې وخت کښې به هغه ته لمونځ کښې ډير سکون او حوصله ملاويدله، د هغه په ژبه به درود شريف جاري وو، بيا هغه همت اوکړو او درې کلوميټره لرې "جنتاکالوني" کښې يو جمات ته ئې د جُمعې د لمانځه د پاره تلل شروع کړل. د کور خلق ئې يو ځل بيا نرم شوي وو. يوه ورځ د محلے يو تش د نُوم مسلمان د هغه د کور خلقو ته ځان ښه ښکاره کولو د پاره د هغوئي څه داسې ذهن خراب کولو کوشش اوکړو چې "مونږ خو هم مسلمانان يُو، کوم داسې روزانه لمونځونه کوو. بس د جُمعے يا اختر لمُونځ کوو! داسې ښکاري چې ستاسو ځوئ د پيريانو قابو کولو څه عمل کوي، دا چې کله ليونے شي نو بيا به تاسو ته پته اولګي." د هغه خبرې ئې چې واوريدلې نو د کور خلق ئې اُويَريدل او بيا ئې پرې سختي شروع کړه تر دې پورې چې د درود شريف وئيلو نه منع کولو د پاره ئې پرې د شونډو خوزولو پابندي هُم اولولګوله. د کور خلقو هغه د يو عامل خواه ته بوتلو هغه هم اووئيل چې په ده باندې "اثرات" دي! دې حالاتو سره د هغه زړه ډير زيات خفه شو او شايد چې هغه بيرته د کفر په تِيارو کښې ورک شوے وے خو د الله پاک کرم ئې شاملِ حال وو چې اَلْحَمْدُ لِلّٰه هغه د دعوت اسلامي ديني ماحول کښې عاشقان رسول نه په محبوبِ رَبِّ ذُوالجلال صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ باندې د شوو ظلمونو داستانونه

اوریدلي وو، د هغه ظلمونو په وړاندې د ده تکلیفونه هیڅ  هم نه وو، په خپل خوږ آقائے کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې سخت آزمائشونه او په هغه آزمائشونو باندې صبر به ئې چې یاد کړو نو د هغه ایمان به نور هم مضبوط شو.

یوه ورځ ئې په پټه باندې د دعوت اسلامي د سنتو ډکې اجتماع ته ځان اورسولو. د کور خلق ئې چې خبر شول نو هلته وریسې ورغلل او د هغه ځائے نه ئې را اوچت کړو او ځان سره ئې بوتلو، نه هغه ئې په خپله څه مزاحمت اوکړو او نه ئې بل څوک مزاحمت کولو ته پرېښودل چې فساد به جوړ شي. کور ته ئې چې بوتلو نو دومره ئې اووهلو چې نیم بےهوشه شو په هوش کښې چې راغلو نو د کور پرېښودلو پخه اراده ئې اوکړه حالانکه درې ورځې مخکښې د هغه د سرکاري نوکرۍ لګیدلو آرډر ملاو شوے وو چې د هغې د پاره ئې کلونه محنت او کوششونه کړي وو اوس یو طرف ته ذاتي مکان، مور پلار او روښانه مستقبل او بل طرف ته د ایمان عظیم دولت وو! خو هغه د رَبِّ کریم په فضل سره د ایمان د حفاظت د پاره په 21 مارچ 2007  په خپله خوښه هجرت اوکړو او خپل کور ئې پرېښودو.

اَلْحَمْدُلِلّٰه نن هغه د هِند په مختلفو ښارونو کښې عاشقان رسول سره مدني قافلو کښې د سنتو ډک سفرونه کوي او د کور د خلقو د سختئ باعث پاتې شوي لـمونځونه ئې هم راګرځولي دي. د هغه خواهش وو چې زه هم کله په لـمانځه کښې د امامت سعادت حاصل کړم. اَلْحَمْدُلِلّٰه مدني قافلو کښې د سفر په برکت یو څو سورتونه صحیح مخارجو سره یادولو او د لـمونځ ضروري مسائل ویادولو کښې کامیاب شو. لِـهذا 13 اپریل 2007 کښې د هغه مُراد پوره شو او هغه ته د هِند "جهانسي" نومې ښار کښې د سحر د امامت کولو سعادت حاصل شو. د هغه وینا ده چې په دعوت اسلامي باندې زما ځان قربان چې دعوت اسلامي د کفر په غیره کښې لوئ شوے کس د ایمان د دولت نه هُم مالامال کړو او ورسره ورسره ئې د امامت په مصلّٰي باندې ئې هُم اودرولو. دا ټول زما د رَبُّ الْعِزَّت رحمت، او د تاجدارِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

عنايت دے هغه نوے مسلمان اسلامي وروړ د سفر په دوران کښې ''قَنّوج'' ښار کښې د مسلمانانو محلے ''کاغزیاني'' ته اورسیدو، د هغه ځائے یو''زوړ جمات'' ته مخامخ میدان د خلقو نه ډک وو، ځوک په تاش کولو او څوک په جوارئ کښې مصروف وو. د مازدیګر لـمونځ نه پس د هغه خلقو خواه ته د نیکئ دعوت د پاره لاړو، یکـدم یو کس د انتهائي غصے په حالت کښې راپاڅیدو او هغه ته ئې ګنده ګنده کنزلې اوکړې او رټل ئې شروع کړو چې لاړ شه بل څوک پوهه کړه زمونږ د پوهه کولو ضرورت نشته. په دې کښې یو بوډا کس هغه ته اووئیل: '' د دهٔ خبره خو واوره چې دا څه وئیل غواړي؟'' چنانچه هغه د نیکئ دعوت پیش کړو او د دعوت اسلامي په ماحول کښې ئې زده کړي د لـمونځ فضائل او د نه کولو په باره کښې وعیدونه واورول، کله چې محسوسه شوه چې په هغوئي اثر شروع اوشو نو اُوئې وئیل''کومې خبرې چې زه تاسو ته بیانووم دا خو تاسو ته پکار وو چې ماته ئې بیان کړئ ځکه چې ما خو لږ وخت مخکښې اسلام قبول کړے دے. بیا هغوئي مختصراً د خپل اسلام قبلولو او په دې دوران کښې د راتلونکـو امتحاناتو واقعات بیان کړل نو هلته موجود خلق د ډیرو جذباتو د وجهې نه په ژړا شو تر دې پورې چې هغه ته کنزلې کولو والا کس په ژړا ژړا اووئیل چې: بس کړه ګنې زما ساه به اوخي. بیا هغه ټول خلق هغه سره جمات ته تللو ته تیار شو. د مازیګر په لـمونځ کښې مونږ دوه کسان وو خو د حیرانئ خبره ده چې د ماښام په لـمونځ کښې درې صفه وو. یو بزرګ اووئیل:'' زه دې خلقو ته په کتلو کتلو کښې بوډا شوم نن اول ځل دوئي په جمات کښې وینم.''

کافروں کو چلیں، مشرکوں کو چلیں  دعوتِ دین دیں، قافِلے میں چلو
کافر آ جائیں گے، راہِ حق پائیں گے  اِن شاءَ اللہ چلیں، قافِلے میں چلو

(وسائلِ بخشش، ص676)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!  صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## غيبت نه د توبه کولو طريقه

د **الله** پاک په بارګاه کښې په شرمندګئ سره توبه او استغفار کوئ. د چا چا غيبت چې مو کړے دے د هغه د پاره د بخښنې دعاګانې کوئ. دنبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د غيبت کفاره دا ده چې د چا غيبت مو کړے وي، د هغه د پاره استغفار کوئ، داسې وائې: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلَنَا وَلَهٗ. يعني الٰهي! مونږه او هغه اوبخښې. (الدعوات الکبير للبيهقي، 2/294، حديث: 507) که نوم ئې درته ياد نه وي نو زما دا مشوره ده چې که کيدے شي نو روزانه وقتاً فوقتاً دا وائې: ياالله پاکه! ما چې تر ننه پورې څومره غيبتونه هُم کړې دي د هغې نه زه توبه کووم. ياالله پاکه! زما او تر ننه پورې چې ما د چا چا غيبت کړے دے د هغوئې ټولو د خپل خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطر بخښنه نصيب کړې (ياد ساتئ! د توبے د قبليدلو د پاره دا هم شرط دے چې د هغه ګناه نه په زړهٔ کښې بےزاري او آئنده د نه کولو کلک عزم وي.).

میری اور جن جن کی میں نے کی ہے غیبت یا خدا
مغفرت فرما دے فرما سب پہ رحمت یا خدا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بنده نه دِ هم معافي اوغواړي

د چا ”غيبت“ چې مو اوکړو او هغه ته پته اُونه لګيده نو د هغهٔ نه معافي غوښتل ضروري نه دي د **الله** غَفّار په بارګاه کښې توبه و استغفار اوکړئ او په زړهٔ کښې پخه اراده اوکړئ چې آئنده به د چا غيبت نه کووم. که هغه ته معلومه شوه نو د هغه خواه ته لاړ شئ او د غيبت په بدله کښې د هغه جائز تعريف اوکړئ، او هغه سره د مَحبَّت اظهار اوکړئ، چې د هغه زړهٔ خوشحاله شي او بيا ورته په عاجزئ سره عرض اوکړئ چې ما ستا کوم غيبت کړے وو په هغې پښيمانه يم ما معاف کړئ. نو بيا بِالفرض که هغه دِ معاف نه کړي نو بيا به هُم اِنْ شَآءَاللّٰه الکريم په آخرت کښې

مواخذه نه کيږي. خو که رسماً دِ ورته (SORRY) [سوري] اووئيل يعنې بغير د اخلاص نه دِ معافي اُوغوښتله او هغه معاف هم کړېږي نو بيا هم په آخرت کښې د مواخذے (يعني تپوس) ويره باقي ده. (بهار شریعت، 181/3 حصّه:16)

صدقہ پیارے کی حیا کاکہ نہ لے مجھ سے حساب     بخش بے پوچھے لجائے کو لجانا کیا ہے

(حدائقِ بخشش، ص171)

## د چا ئې چې غيبت کړے وو نو د توبه کولو نه پس که هغه ته پته اولګي؟

د غيبت کولو نه پس مُغتاب يعني د چا غيبت چې ئې کړے وو هغه ته پته اولګيده نو بيا څه کول پکار دي! په دې ضمن کښې اعلیٰ حضرت امام اهلِ سنت، امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په فتاوي رَضَوِیَّه جلد 24 صفحه 411 کښې نقل فرمائي: په رَوضَةُ العُلَمَاء کښې دي چې ما د حضرت ابو محمد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه تپوس اوکړو: که چرته غيبت هغه کس ته اونه رسي د چا چې غيبت شوے وي نو د غيبت کوونکي د پاره به توبه فائده منده وي او که نه؟ هغوئي اوفرمائيل: آو. (يعني فائده منده به وي) ځکه چې هغه د بنده د حق کيدو نه مخکښې توبه اوکړه، غيبت به (حقوق العباد يعني) د بنده حق هله جوړيږي کله چې هغه ته اورسي. ما ورته اووئيل: که د توبه کولو نه پس هغه کس ته غيبت اورسي؟ هغوئي اُوفرمائيل: چې د هغه کس توبه به نه باطله کيږي بلکه الله کريم به دواړه اوبخښي. غيبت کوونکے به د توبه کولو په وجه او د چا چې غيبت شوے دے هغه د هغه تکليف په وجه کوم چې هغه ته د غيبت اوريدلو په وجه رسيدلے دے ځکه چې الله پاک کريم دے د هغه مُتَعَلِّق دا نه شي وئيلے چې هغه د چا توبه قبوله کړي او بيا ئې رد کړي بلکه دواړه به اوبخښي. (منح الروض للقاری، ص440)

ڈر تھا کہ عصیاں کی سزا، اب ہو گی یا روزِ جزا
دی اُن کی رحمت نے صدا، یہ بھی نہیں وہ بھی نہیں
(حدائقِ بخشش، ص110)

## د چا ئې چې غيبت اوکړو هغه ته پته اولګيده.... بيا مړ شو

امام محمد بن محمد غزالي رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَيۡه فرمائي: "د چا ئې چې غيبت اوکړو (هغه ته پته اولګيده او بيا) مړ شو يا غائب شو د هغه نه څنګه معافي طلب کړے شي؟ دا معامله ډيره مشکله شوه! لِهذا اوس پکار دي چې ډيرې ډيرې نيکئ کوي چې که په ورځ د قيامت چرته د ده نيکئ د غيبت په بدله کښې ورکړے شي نو بيا هم ده سره نيکئ باقي پاتې شي.

**حکايت**: حضرت شيخ عبدالوهاب شَعراني رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَيۡه نقل کوي: زما ورور افضل الدين رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَيۡه فرمائي: زه نيک اعمال د دې د پاره زيات کووم چې په ورځ د قيامت زما سره څه نه څه اعمال وي، چې هغه چا ته ئې ورکړے شم د چا چې زما په ذمّه (د حقوق العباد متعلق) د مال يا عزت څه مطالبه وي. (تنبيه المغترين، ص191)

بازارِ عمل میں تو سودا نہ بنا اپنا سرکار! کرم تجھ میں عیبی کی سمائی ہے
(حدائقِ بخشش، ص192)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## هائے د نفس شامته!

آه! آه! آه! په غفلت او نافرمانو کښې ډوب د هغه کس به څه کيږي چا چې د نفس د بدئ په سبب د بےشميره خلقو غيبت کړے وي، د مړو يا ورک شوو خو لرې خبره ده، د پيژندلو باوجود هم د خپل عزت کميدو په وجه د معافئ غوښتلو نه شرميږي ! هائے! هائے! هائے! که په ورځ د قيامت کنړ شمير اهلِ حقوق د نيکئ

طلب کولو او خپل خپل ګناهونه د هغه په سر اچولو باندې کلک شي نو څه به کیږي. آه! آه! آه! صدقے یارسول اللهٔ!

تجھے ہر گز گوارا ہو نہیں سکتا کہ محشر میں جہنّم کی طرف روتا ہوا تیرا گدا نکلے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په دنیا کښې پرې ځان معاف کولو کښې خیر و عافیت دے

زمونږ د خوږ آقائے کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د چا په ذِمه چې د خپل ورور د عِزَّت وغیره د کومې خبرې مَظلَمه (یعني ظُلم) وي، په هغه باندې لازم دي چې هم دلته د هغه نه معافي اُوغواړي، د هغه وخت د راتللو نه مخکښې چې نه به هلته دینارونه وي او نه درهمونه، که هغه سره څه نیکئ وي نو د هغه د حق په مقدار به د دهٔ نه واخستلے شي او هغه ته به ورکړے شي ګني د هغه ګناهونه به په دهٔ کیښودلے شي. (بخاری،2/128، حدیث:2449)

سب نے صفِ محشر میں للکار دیا ہم کو اے بیکسوں کے آقا اب تیری دُہائی ہے
(حدائقِ بخشش، ص192)

## د بُهتان تعریف

د یو کس په موجودګئ یا غیر موجودګئ کښې په هغه باندې دروغ وئیلو ته بُهتان وئیلے کیږي. (الحدیقة الندیة،2/200) په آسانو الفاظو کښې پرې ځان داسې پوهه کړئ چې د بدئ نه کولو باوجود پشي شا یا مخامخ څه بدي د هغه طرف ته منسوب کړي نو دا بُهتان شو مثلاً پشي شا یا مخامخ چا ته ریاکار اووائي او هغه ریاکار نه وي، یا که [هغه ریاکار] وي خو تاسو سره څه ثبوت نه وي ولے چې د ریاکارئ تعلق باطني بیمارو سره دے لهذا دغسې چا ته ریاکار وئیل بُهتان شو.

## د بُهتان نه د توبه کولو طريقه

د بُهتان نه دِ توبه اوکړي، په دې توبه کښې د درې خبرو کيدل ضروري دي: ﴿1﴾ آئنده د پاره د بُهتان ترک کولو پخه اراده کول ﴿2﴾ د چا حق چې ئې ضائع کړے وو، که مُمکنه وي نو د هغه نه معافي طلب کول مثلاً صاحب حق ژوندے او موجود دے، هم دغه شان چې د معافئ طلب کولو سره څه جنګ جګړه يا دشمني نه پيدا کيږي. ﴿3﴾ د (کومو) خلقو (په وړاندې چې ئې بُهتان لګولے وو) د هغوئي په مخکښې د خپلو دروغو (يعني بُهتان) اقرار کول، يعني داسې وئيل چې ما کوم بُهتان لګولے وو د هغې څه حقيقت نشته. (حديقه نديه، 2/209) د عاشقان رسول دِيني تحريک دعوت اسلامي د مَکْتَبَةُ الْمَدِينه د 312 صفحو کتاب "بهارِ شريعت" حصّه 16 صَفحَه 181 کښې حضرت عَلّامه مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د بُهتان په صورت کښې توبه کول او معافي طلب کول ضروري دي بلکه د چا په وړاندې چې ئې بُهتان لګولے وو د هغوئي خواه ته تلل او داسې وئيل ضروري دي چې هغه فلانکي باندې چې ما بُهتان لګولے وو هغه ما دروغ وئيلي وو.

د نفس د پاره يقيناً دا ډير ګران کار دے خو د دنيا لږ شان ذلت برداشت کول آسان خو د آخرت معامله انتهائي سخته ده، قسم په خُدائے! د دوزخ عذاب به څوک برداشت نکړے شي- لهٰذا اولولئ او اولړزيګئ:

## د بُهتان عذاب

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: څوک چې د يو مسلمان داسې بد بيان کړي کوم چې په هغه کښې نه وي نو هغه به **الله** پاک د هغه وخته پورې د دوزخيانو په چقړو، نَوونو، او وينه کښې ساتي تر څو پورې چې هغه د خپلې خبرې نه اُونه اُوځي [يعني تر څو چې د هغه سزا پوره نه شي]. (ابوداود، 3/427، حديث:3597)

## د ګناه د الزام عذاب

خلقو باندې د ګناهونو تهمت لګوونکو د عذاب ويروونکے روايت واورئ چنانچه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب کښې ليدونکي ډېر منظرونه بيان کړل او دا ئې هم اُوفرمائيل چې بعضې خلق د خپلو ژبو نه زوړند وو. ما جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام نه د هغوئې په باره کښې تپوس اوکړو نو هغوئې اووئيل چې دا په خلقو باندې د دروغو تهمتونه لګولو والا دي. (شرح الصدور، ص182)

## شکي مزاجو ته خبردارے

کومې شکي مزاجه زنانه چې په خپلو خاوندانو باندې تهمتونه لګوي او داسې خبرې کوي چې ❖ د يوې ښځې په چکر کښې دے ❖ تولې پيسے هغې له ورکوي وغيره دغه شان وهمي نارينه په خپلو زنانو باندې داسې د ګناهونو تهمتونه لګوي چې ❖ د دې د چا سره ''آشنائي'' ده ❖ خپل يار ته فون کوي ❖ هغه سره ملاويږي ❖ ګنده کارونه کوي ❖ وغيره. هغوئې ته د دې بيان کړے شوو رواياتو نه عبرت حاصلول پکار دي په دې باره کښې يو عبرت انګيز حکايت اُوګورئ چنانچه

## په ښځه باندې د تهمت لګولو په سبب هلاکت

حضرت علامه جلال الدين سيوطي شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په شرح الصدور کښې فرمائي: يو کس په خوب کښې جرير حطفي اوليدلو نو تپوس ئې ترينه اوکړو: مَافَعَلَ اللهُ بِکَ؟ يعني الله پاک تا سره څه معامله اوکړه؟ هغه اووئيل: زه ئې اوبخښلم. ما ترينه تپوس اوکړو: د بخښنې څه سبب جوړ شو؟ هغه اُووئيل: د هغه تکبير په سبب کوم چې ما په يو ځنګل کښې وئيلے وو. ما ترينه تپوس اوکړو: د فَرَزْدَق سره څه اوشو؟ نو هغوئې اووئيل: افسوس په پاکو زنانو باندې د تهمت لګولو په وجه هغه په

هلاکت کښې ګرفتار شو. (شرح الصدور، ص285،البداية والنهاية،409/6) هائے ! هائے! هائے! مونږه به په ژوند کښې پته نشته چې په څومره خلقو تهمتونه لګولي وي! آه!

## يو بل د غيبت نه دبچ کولو طريقه

اے عاشقان رسول! د کومو کومو خوش نصيبو چې دا ذهن جوړيږي چې مونږ له د غيبت په شان موذي مرض نه د خلاصي د پاره کوشش تيزول پکار دي نو هغوئي دِ په خپل مينځ کښې دا طے کړي چې که په مونږ کښې معاذالله څوک غيبت شروع کړي نو چې کوم موجود وي هغه دِ ئې د خپل طاقت مطابق په ژبه باندې سختئ سره منع کړي او د توبه کولو دِ ورته اووائي او اول او آخر دِ صَلُّوْاعَلَى الْحَبِيْب اووائي او په هغه باندې درود شريف وئيلو سره دِ اووائي تُوبُوۡاِلَى الله!(يعني د الله پاک بارګاه کښې توبه اوکړه!) دا چې واوري نو غيبت کوونکے دِ اووائي اَسۡتَغۡفِرُالله (يعني زه د الله پاک نه بخښنه طلب کووم) ان شاءالله الكريم دغه شان سمدستي به د توبه کولو سعادت ملاو شي. چا چې ترينه غيبت کول نه وو اوريدلي د هغوئي نه احتياط لازمي دے، آواز او انداز داسې نه دے پکار چې چا ته پته نه وي هغوئي ته هم معلومه شي چې فلانکي غيبت اوکړو.

## چاته تور وئيل هم غيبت دے

زمونږ بزرګانِ دين به د توبے په معامله کښې بالکل نه شرميدل چنانچه حُجَّةُ الۡاِسلام حضرت امام محمد بن محمد غزالي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه نقل کوي: حضرت امام ابنِ سيرين رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د يو کس ذکر کولو کښې اُوفرمائيل : هغه سړے تور دے بيا ئې اوفرمائيل: اَسۡتَغۡفِرُالله "يعني زه د الله پاک نه بخښنه غوارم" زه دا ګڼړم چې ما د هغه غيبت اوکړو. (احياء العلوم، 178/3)

## په توبه کولو کښې شرم محسوسول نه دي پکار

اے عاشقان اولیا! زمونږ د بزرګانو خوفِ خدا مرحبا! دومره لوئے بزرګ فوراً د ټولو په مخکښې توبه اوکړه د دې نه دا درس هم حاصل شو چې خدانخواسته که چرته د خلقو په مخکښې د چا نه غیبت وغیره ګناه اوشي نو د احساس کیدلو سره فوراً بغیر د شرم محسوسولو نه د ټولو په مخکښې توبه کول پکار دي. که وروستو احساس اوشي او توبه هُم اوکړي نو چې د چا چا په وړاندې ئې د غیبت ګناه کړې وي هغوئي ته دِ د خپلې توبے کولو خبر ورکړے شي. د توبے دا قاعده په ذهن کښې ساتئ څنګه چې په حدیثِ پاک کښې دي: د **الله** پاک آخري نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد مبارک دې: کله چې تاسو کومه ګناه اوکړئ نو توبه اوکړئ، اَلسِّرُّ بِالسِّرِّ وَالْعَلَانِيَةُ بِالْعَلَانِيَةِ يعني د پټې ګناه توبه په پټه او د ښکاره ګناه توبه په ښکاره. (معجم کبیر، 159/20، حدیث:331)

د دې حکایت نه دا هم معلومه شوه چې د شرعي اجازتِ نه بغير د يو مسلمان په غير موجودګئ کښې د هغه جسماني عيب بيانول مثلاً تور ❖ خړ ❖ بدرنګ ❖ بړَکے ❖ ګنجا ❖ خيټا ❖ اُوګرد ❖ لنډے ❖ يو سترګے ❖ ړوند ❖ کوڼ ❖ چاړا ❖ ګوَډ ❖شل ❖ شا بُوکے ❖ وئيل غيبت دے بعضې اسلامي وروڼه د تور رنګ والا کس ته بلالي وائي، بےضرورت داسې وئيل هم نه دي پکار چې دا به هُم پشي شا وئيل په غيبت کښې شميرلے کيږي ځکه چې چا ته د "بلالي" مرادي معنیٰ معلومه وي يعني خوک چې پوهيږي چې زه تور يم ځکه ماته "بلالي" وائي نو په هغه به بده لګي. خو که د يو مخصوص اسلامي ورور پيژندګلو صرف بلالي وي نو په دې نيت سره بلالي وئيلو کښې حرج نشته.

## ګناه کيدلو سره فوراً توبه کول واجب دي

د حضرت امام نووي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه منقول دي: څنګه چې ګناه اوشي سمدستي توبه کول

واجب دي اګر که هغه صغیره ګناه وي. (شرح مسلم للنووی، ص59)

## د چا خبره غیبت نه وه خو تا ورته غیبت اووئیلو نو؟

یوے خبرې ته د ګناه نه ډک غیبت وئیلو د پاره معلومات ضروري دي که تاسو بغیر د سوچ کولو نه یوې خبرې ته غیبت اووائے او د هغې مُرتکِب ته هم ګنهګار اووائے او هغه ګنهګار نه وو. نو په داسې صورت کښې تاسو ګنهګار شوئ توبه کول به په هغه نه بلکه په تاسو به واجب وي! بهرحال خپل مینځ کښې دا ضرور طے کړئ چې که غیبت نه کیدلو او بیا هم چا د غلط فهمئ په سبب تُوبُوۡاِلَي الله! اووئیل نو بیا به هم مونږه د جنګ صورت نه پیداکوو ګنې شیطان ته په بله طریقه یعني خپل مینځ کښې د جنګولو او په زړونو کښې د بُغض و کینه اچولو په ذریعه په ګناه کښې د اخته کولو موقع په لاس ورتلے شي.

## جګړې نه د بچ کیدلو فضیلت

خدانخواسته که چرته دوه اسلامي ورونړه په جګړه شي نو دریم کس دِ موقع ملاویدلو سره په اوچت آواز صَلُّوۡعَلَي الحَبِيبِ اووائي، او هغوئي دواړه دِ درود شریف وئیلو وئیلو کښې صُلح اوکړي. څوک چې په حق باندې د کیدلو باوجود جګړه اونکړي نو ان شاءالله الکریم د هغه بیړئ پورې وتله چنانچه د نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې په حق باندې د کیدلو باوجود هم جګړه اونکړي زه د هغه د پاره د جنت په (دننه) غاړه که د یو کور ضامِن یم.

(ابوداؤد، 332/4، حدیث:4800)

## د استغفرالله وئیلو فضیلت

د خلقو په موجودګئ کښې هر قسمه معصیَت، بلکه د ناخوښه حرکت مثلاً فضول خبره د خُلې نه وتلو باندې بلکه د موقعې په مناسبت سره بِلاعُنوان [یعني د داسې

وجوهاتو نه بغیر] هُم په اوچت آواز سره اول  آخر صَلُّوعَلَي الحَبِيب سره تُوبُوااِلَي الله وئیل پکار دي ځکه چې هر وخت توبه و استغفار کول د ثواب کار دے. د  نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: مَنِ اسْتَغْفَرَ اللهَ غَفَرَلَه یعني ځوک چې د **الله** پاک نه اِستِغفَار (یعني بخښنه طلب) کوي **الله** پاک به د هغه بخښنه اوفرمائي. (استغفرالله وئیل هم اِستِغفَار یعني بخښنه طلب کول دي) (ترمذی،5/288،حدیث:3481)

## د توبې درې ارکان دي

البته که د چا نه ګناه اوشي نو د هغې نه صرف رسمي توبه کول کافي نه دي د عاشقان رسول دِیني تحریک، دعوت اسلامي د مَكْتَبَةُالْمَدِينه د 480 صفحو کتاب "بیاناتِ عطّاریه" حصّه اوّل صفحه 79 کښې دي: صدر الافاضل حضرت علامه مولانا سید محمد نعیم مراد آبادي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: د توبې اصل رُجُوع اِلَي اللهِ (یعني د الله پاک طرف ته رجوع کول) دي د دې درې ارکان دي: (۱) اعترافِ جرم (۲) شرمندګي (۳)عزمِ ترک (یعني د هغه ګناه پریښودلو پخه اراده) که ګناه قابلِ تلافي وي نو د هغې تلافي (یعني د نقصان بدله) هم لازمه ده مثلاً تَارِكُ الصّلوٰة (یعني بے لمانځه) د پاره د پاتې شوو لمونځونو قضا هم لازم ده. (خزائن العرفان، ص12)

## ټول د غیبت نه د بچ کیدلو ترکیب اوکړئ

ټول مسلمانان، ټول عاشقان رسول بشمول د دعوت اسلامي د ټولو مجلسونو اراکین و مبلغین، مدرسین و طلبهٔ علمِ دین، معلمین و متعلمین او د مدني قافلو مسافر وغیره د غیبت نه د بچ کیدلو د پاره که په ذکر کړے شوې طریقه باندې عمل اوکړي نو اِنْ شَآءَالله رحمتونه او رحمتونه او بخښنې او بخښنې به وي. یا **الله** پاکه! مسلمانان د بدګمانیانو، غیبتونو، تهمتونو، چغلیانو، زړهٔ آزارولو وغیره ګناهونو نه

محفوظه اوساتي، یا **الله** پاکه زمونږ د خوږ پیغمبر صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دخوږ امت بخښنه اوفرمائے.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## دعائے عطار

یاربِّ مصطفٰي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! کوم یو اسلامي ورور یا اسلامي خور هُم چې په خپل ځائے کښې "یو بل د غیبت نه د بچ کولو طریقه" عامه کړي د هغه او ثوک ثوک چې ورسره په دې کښې ملګرتیا اوکړي د هغه ټولو غیبي مدد اوکړې، د هغو ټولو د غیبت نه بلکه د هر قسمه ګناهونو نه حفاظت اوکړې او د هغوئي په زړونو کښې خپل او د خپل خوږ حبیب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رېښتونے مَحَبَّت واچوې. هغه ټول جنت الفردوس ته بےحسابه داخل کړې او د خوږ آقائے کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګاونډ ئې نصیب کړې او دا ټولې دعاګانې زما د ګنهګارانو سردار په حق کښې هُم قبولې کړې. یا **الله** پاکه! زمونږ د خوږ پیغمبر صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خوږ امت بخښنه نصیب کړې.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

خدایا اَجل آ کے سر پر کھڑی ہے — دکھا جلوۂ مصطفٰے یا الٰہی
مسلماں ہے عطاؔر تیری عطا سے — ہو ایماں پر خاتمہ یا الٰہی

(وسائلِ بخشش، ص105،106)

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نیک او لمونځ ګزاره جوړېدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښائے کښې کېدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نیّتونو سره توله شپه تېروئ ❁ د سُنّتو د تربیّت د پاره **مَدَني قافِلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِینه**" په ذریعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په بِکم تاریخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي.**" اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "**مَدَني اِنعاماتو**" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "**مَدَني قافِلو**" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ








فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدینه (کراچۍ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com